F

شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پراو / ۱۹۱ ګڼه / سه شنبه ۱۰ ذوالقعدةالحرام ۱٤٤٤ هـ.ق / ۰۹ جوزا ۱٤۰۲ هـ.ش / ۳۰ می ۲۰۲۳ میلادي

پیام تبریکی رئیس الوزراء امارت اسلامی به اردغان

ملا محمد حسن آخند' رئیس الوزراء امارت اسلامی در پیامی پیروزی رجب طیب اردوغان را در انتخابات ریاست جمهوری ترکیه تبریک گفت.
ملا محمد حسن آخند خطاب به اردوغان گفته است: « پیروزی شما در دور دوم انتخابات ریاست جمهوری ترکیه را به شما و ملت برادر و دوست ترکیه تبریک گفته، از خداوند متعال یک ترکیه قوی، با ثبات و در خدمت دین مبین اسلام که این کشور در منطقه و جهان از اهمیت ویژه یی برخوردار است خواهانم». ص۵



د ریاست الوزراء کفیل:

د ملت او امارت ترمنځ باید واټن نه وي

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال او کفیل مولوي عبدالکبیر پرون د ننګرهار د شینوارو له یو شمېر قومي مخورو او استازو سره په کتنه کې وویل، د ملت او اسلامي امارت ترمنځ باید واټن نه وي.
ارګ په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې په دې کتنه کې راغلو مشرانو د سیاسي معاونیت زیار او هڅو ته په اشارې وویل، چې تل یې د ولسونو غږ اورېدلی او خلکو په ډاډه د خپل زړه درد ورسره شریک کړی دی.
دوی د ننګرهار په اچین ولسوالۍ کې د ولسونو ... ۵مخ

د عالیقدر امیرالمؤمنین په فرمان نوې ټاکنې

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله له وروستي فرمان سره سم، د مالیې وزارت د پیاوړتیا او په کارونو کې د ښه والي لپاره څو مهمې ګومارنې شوې دي.
د لارښوونې له مخې؛ لاندې اشخاص په یاد وزارت کې په مهمو بستونو کې ګومارل شوي دي:
د مالیې وزارت د عوایدو او ګمرکونو پخوانی مرستیال ملا محمد ناصر د مالیې وزارت د سرپرست په توګه، د اوبو او انرژۍ وزارت د انرژۍ پخوانی مرستیال ملا عبدالقهار ادریس د مالیې وزارت د عوایدو او ګمرکونو د مرستیال په توګه او د افغانستان بانک دویم مرستیال حاجي عبدالقدیر احمد د مالیې وزارت د مالي او اداري چارو د مرستیال په توګه ټاکل شوي دي.
دغه ګومارنې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله له لارښوونې سره سم ترسره شوې، چې د ستراتیژیکو پرېکړو پر اهمیت او واک ټینګار کوي.

زدایش کوکنار از هزاران جریب زمین در تخار

مسوولان امنیتی تخار می‌گویند که طی یک ماه اخیر ۷۵۰۰ جریب زمین را در این ولایت از وجود کوکنار پاکسازی کرده‌اند.
عبدالمبین صافی، سخنگوی پولیس تخار روز گذشته ... ص۵

کاپیسا کې ۱٤۷۸ جریبه دولتي ځمکه تثبیت شوه

عدلیې وزارت وایي، چې د کاپیسا د ځمکو د غصب مخنیوي او بېرته راګرځولو تخنیکي پلاوي د تېرو دریو ورځو په ترڅ کې د دغه ولایت په مرکز کې ۱۴۷۸ جریبه دولتي ځمکه تثبیت او استرداد له پاره آماده کړه.
دغه وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې کاپیسا کې د ځمکو د غصب مخنیوي او بېرته راګرځولو تخنیکي پلاوي د یاد ولایت د مرکز په دروازه کې سیمه کې ۱۴۷۸ جریبه دولتي ځمکه تثبیت او د استرداد لپاره آماده کړه. ۵مخ

د فراه ولایت د خلکو استازی:

امارت دې د فراه ولایت وګړو ته د کار زمینه برابره کړي

د فراه ولایت یو شمېر مشرانو او ولسي استازو د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي سره په کتنه کې وویل، چې اسلامي امارت د فراه ولایت ښوونې او روزنې او خلکو ته د کارموندنې لپاره ځانګړې پاملرنه وکړي.
د ریاست الوزرا مطبوعاتي دفتر په یوه خبرپاڼه کې ویلي، د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي تیره ورځ د فراه ولایت له یو شمېر مشرانو و استازو سره وکتل.
په دې کتنه کې مولوي فقیر احمد د نورو په استازیتوب... ۵مخ

پکتیکا کې د برېښنا د تولید کارخونې جوړولو په اړه بحث وشو

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست ملا عبداللطیف منصور د عوفي بهرام د کانونو د استخراج او پروسس سوداګریز شرکت له مسوولینو سره په پکتیکا کې د ۷۲ میګاواټو په وړتیا د برېښنا د تولید کارخونې جوړولو د عملي چارو د پیل په هکله بحث او د اندونو تبادله وکړه.
دغه وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې په یاده کتنه کې نوموړي شرکت د یادې پروژې د عملي چارو د پیل لپاره خپل چمتووالی څرګند کړ او د عملي چارو د پیل لپاره د زمینې چمتو کولو په موخه ... ۵مخ

بلخ کې د ۲ زرو معتادینو درملنه شوې ده

د بلخ د عامې روغتیا ریاست مسوولین وایي، چې د دغه ولایت د سرپرست والي حاجي محمد یوسف وفا په ځانګړې سپارښتنه او د عامې روغتیا وزارت او ولایت مقام په مالي همکارۍ په یاد ولایت کې په نشه یي توکو د روږدو کسانو لپاره په څلورو برخو کې ۱۰۰ بستریز روغتونونه جوړ شوي، چې په کې د ماشومانو او ... ۵مخ

علمای پنجشیر:

ساکنین پنجشیر از حاکمیت امارت اسلامی خرسند هستند

شماری از علماء و اساتید مدرسه جهادی پنجشیر در دیدار با کفیل ریاست الوزراء می‌گویند که ساکنین پنجشیر از حاکمیت امارت اسلامی خرسند هستند و تبلیغات در مورد برخی از این نگرانی‌ها، کار عده‌یی از حلقات مغرض و خودخواه است.
دفتر مطبوعاتی ریاست الوزراء دیروز به نشر این خبر گفت: مولوی عبدالکبیر با مولوی مسیح الله مهتمم مدرسه جهادی پنجشیر و شماری از استادان و علمای این مدرسه در قصر سپیدار دیدار کرد.
در این دیدار علمای متذکره گفتند که ساکنین پنجشیر از حاکمیت ... ص۵

سرمقاله

د اردغان بریا د اسلامي امت د خوښۍ یو بل زېری

د ترکیې په ولسمشریزو ټاکنو کې د رجب طیب اردغان بیا ځلې بریا د ترکیې ملت مینه څرګندوي په داسې هېواد کې چې له سلو کلونو په کې زیات سیکولر نظام واکمن و او د یوه سرسخت رقیب سره چې د نړۍ زیاتو هیوادونو یې حمایت او مرسته کوله په ولسمشریزو ټاکنو کې د اکثریت رایې ترلاسه کول او د هغه دوهم ځلې انتخاب او ټاکل له مسلمانانو سره د الهي نصرت له بیلګې پرته بل څه ګڼل کېدای شي د مسلمانانو لپاره د خوښۍ یو بل زیری او اسلامي امت ته د ویښتیا پیغام ورکوي او د نوموړي د ځیرکتیا، پوهې او له خپل هیواد او ملت سره د هغه بې کچه مینه څرګندوي چې ویې کړای شول خپل رقیبان مات او یو ځل بیا د هیواد د چارو واګې په خپل لاس کې واخلي چې په اړه یې نړۍ د بېلا بېلو هیوادونو لخوا هغه ته د مبارکۍ پیغامونه مخابره شوي دي، د ښاغلي اردغان د بیا ځلې انتخاب او ټاکنې په تړاو د افغانستان اسلامي امارت د رئیس الوزراء الحاج ملا محمد حسن اخند د مبارکۍ پیغام کې راغلي د ښاغلي جلالتمآب رجب طیب اردغان ته د ترکیې د انتخاباتو په دوهم پړاو کې د بریا او د ترکیې د منتخب ولسمشر په توګه د بیا انتخابېدو مبارکې وایم له الله (ج) څخه هیله کوم چې ترکیې هیواد ته چې په سیمه او نړۍ کې ځانګړی اهمیت لري لا قوت، ثبات او د دین خدمت ور په برخه کړي د افغانستان او ترکیې د ولسونو ورورګلوي او دوستي دې همیشه اد دوامداره وي. وړمه ورځ د ترکیې د جمهوري ریاست دوهم پړاو ټاکنې وشوې چې اوسني جمهور رئیس رجب طیب اردوغان ۵۲،۱۴ سلنه رایو په ګټلو سره ... ۵مخ

۱۸ تنه د جنایي جرمونو په تور ونیول شول

د کورنیو چارو وزارت د هېواد په ۸ ولایتونو کې د بېلا بېلو جنایي جرمونو په تور د ۱۸ تنو د نیول کېدو خبر ورکړی دی.
دغه وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې د جنایي جرمونو پر وړاندې د مبارزې پولیسو په ارزګان، پروان، هرات، سرپل، غزني، غور، بغلان، لغمان او میدان وردکو ولایتونو کې ۱۸ تنه د قتل، غلا، اخلاقي فساد او نورو جنایي جرمونو... ۵مخ

د اردغان بریا؛ د ویښو ملتونو برخلیک، خپله خاوره خپل اختیار! ص۲
د قسطینطنیې تاریخي سوبه ۳مخ
د اخلاص سورت فضایل ص٤

جوزجان کې د امو سیند غاړې تحکیم شوې

په شمال کې د سیندیزې حوزې ریاست مسوولین وایي، چې د جوزجان په قرقین او خماب ولسوالیو کې ... ۵مخ

کمک با ۶ هزار خانواده در ولایت‌های دایکندی و بادغیس

برای نزدیک به ٦ هزار خانواده در ولایت‌های دایکندی و بادغیس مواد خوراکی و پول نقد کمک شده است.
مسوولان محلی در بادغیس می‌گویند که موسسه «ورلد ویژن» برای ٤ هزار و ٣٤٤ خانواده نیازمند در این ولایت مواد خوراکی توزیع کرده است.
از سویی هم، وزارت مبارزه با حوادث طبیعی می‌گوید که برای یک هزارو ٥٦٦ خانواده در ولایت دایکندی مؤسسه «افغان‌اید»، پول نقد کمک کرده است.
ریاست احیا و ... ص۵

مسوولان سازمان ملل:

متعهد به کمک با معارف افغانستان استیم

بازرس‌های سازمان ملل، در سفر به هرات، بر ادامه‌ی کمک‌های این سازمان برای تقویت بخش معارف کشور، تاکید کردند.
کترینا مرکِل و جیمز دِرسی بازرس‌های سازمان ملل در دیدار با مولوی عبدالله امینی رئیس معارف هرات، گفتند که این سازمان، همچنان برای کمک به معارف افغانستان متعهد است.
در این دیدار روی چگونگی بهبود برنامه‌های آموزشی و تاثیر گذاری همکاری‌های سازمان ملل در بخش ... ص۵

سره میاشت:

خلکو ته د مرستو تر څنګ کاري فرصتونه هم برابروو

د افغانستان د سرې میاشتې رییس وایي، خلکو ته پر مرستو سربېره د کاري فرصتونو زمینه هم برابر وي.
د سرې میاشتې رییس دا څرګندونې ارزګان ولایت ته د سفر پر مهال کړې دی. نوموړی وایي، له بېلابېلو مرسته کوونکو سازمانونو څخه یې غوښتنه کړې چې اړمنو ... ۵مخ

د اردغان بریا؛ د ویښو ملتونو برخلیک، خپله خاوره خپل اختیار!

میا هدایت الله محمدي

خدای هم نه بدلوي حال دهغه قوم
څوک چې نه بدلوي خپل حالت پخپله

تېره ورځ په ترکیې کې د ټاکنو د دویم پړاو پایلې اعلان شوې، د یاد هېواد د ټاکنو د عالي شورا مشر احمد ینر اعلان وکړ چې د عدالت او پراختیا کونډ مشر ښاغلی رجب طیب اردوغان د ۵۲،۱۴ سلنه رایو په پایله کې د درېیم ځل لپاره د ترکیې ولسمشر اعلان شو.

د اردغان بریا ټولې اسلامي نړۍ ته د خوښۍ خبر دی او د نوموړي بریا له موږ پرته ډېرو نورو هېوادونو ته د پند لوی لوی پیغامونه راکوي، د نوموړي بریا د ملت جوړونې او خپل هېواد او هېوادوالو لپاره د غوره خدمتونو او پرمختګونو پایله ده.

ښاغلي اردغان په وخت کې هېواد ښه ورغاوه، ملت یې جوړ کړ، هېواد یې د سیمې او نړۍ له دښمنۍ وساته، د فلسطین، سوریې، اسرائیلو، ایران، اعراق او نړیوالو قدرتونو ترمنځ یې د اعتدال سیاست ولوباوه، په کور د ننه یې تر ډېره حده خپل مخالفین مهار کړل او څو څو ځله یې د کودتاوو مخه هم ونیوله.

د اردغان د دغو سترو او لالهاندو مزلونو پایله یو ځل بیا ولیدله او بیا یې د واک کدۍ خپله کړه.

د اردغان بریا د افغانستان په سیاسي ډګر جوت اغیز نه لري؛ خو بریا یې موږ ته ځینې د عبرت لارښوونې او پیغامونه راکوي چې د هغو له جملې یو هم ملت جوړونه ده، موږ که ملت جوړ کړو او د ملت ذهنونه د اسلامي اخوت، اسلامي او ملي ارزښتونو او د هېواد لومړیتوبونو په اړه روښانه کړو؛ نو هېڅکله به د بې وسۍ، لاچارۍ او پردیو لاسوهنو په اړه تشویشونه ونه کړو او نه به هم له موږ څخه خپل خلک د نورو مغرضو خلکو د تبرونو لاستي جوړېږي.

موږ باید د ملت نبض وګورو، ملت په څه خوشالېږي؟ څه ته اړتیا لري؟ له کومې زاویې یې ذهنونه جوړېږي؟ څه وکړو چې د ملت د ملا تېر (ځوان قشر) د دریابونو د نهنګانو له خوراک وژغورو او په کور د ننه ورته داسې اسباب برابر کړو چې هم خپل دولت سره اوږه په اوږه ودرېږي او هم د محرومیت له احساس وژغورل شي.

دا جوته ده چې د اسلامي امارت له راتګ سره خورا ډېر څه ښه شوي، مثبت تغیرات مو حس کړي، د ملک الطوایفي طلسم مات شوی، د لنډغرو غر و فش تالا ترغی شو، د ظالم لاس نیول شوی، د مظلوم غږ اورېدل شوی، د چا مال، ناموس، حیا او عزت له ګواښ سره نه ده مخ شوې؛ هېچا باندې د تېرو شلو کلونو په څېر ظلم نه دی شوی او نه هم له خپل کور او کلي شړلو ته دی اړ شوي دي، یوازینی کار چې ډېر د نړیوالو د فشار او په کور د ننه د ننګونې لامل شوی او د رسمیت پېژنې لړۍ یې زیانمنه کړې ده، هغه د انجونو د زده کړو د ممانعت خبره ده، که څه هم دا خبره په اوسني وخت کې د پالیسي خلاف ده او په دې اړه غږېدل، مناسب هم نه دي؛ ځکه چې هیله او امید شته چې د مسئولو مشرانو له لوري دغه ستونزه هم حل شي او یوه د عزت لاره ورته پیدا شي، که نه نور خو لله الحمد په هره برخه کې د هېواد فضاء او خاوره معطره شوې ده، د بم د چاوېدو، د رندو بمباریو او د شپنیو چاپو وحشي غږونه خپ شوي دي، د افغانۍ ارزښت مو له پخوا ښه شوی دی، اقتصاد، سوداګري او بیارغونه تر پخوا څو چلنده ښه شوې ده.

له سیاسي پلوه هم خورا ښه مثبت او د خیر خبرونه اورو! د بهرنیو چارو د وزیر ښاغلي مولوي امیر خان متقي صاحب د نه سترې کېدونکو هڅو او سیاسي ویښتیا برکت دی چې له دغه پلوه مو هم هره ورځ د پرمختګ څرکونه تر سترګو کېږي، ورځ تر بلې د چم ګاونډ، سیمې او نړۍ هېوادونه له اسلامي امارت سره د ښه تعامل شنه څراغونه ځلوي، له ګنو هېوادونو سره سفارتي اړیکې بیا خلې پیل شوي دي، ګنو سفارتونو په کابل کې خپلې بندې دروازې بیا پرانیستلې او په افغانستان کې یې له پخوا د ډېرو همکاریو او سیاسي تعاملاتو ښه خبرونه ورکړي دي.

د افغانستان ډېر سفارتونه او قونسلګرۍ فتحې شوې او دا لړۍ لا هم دوام لري، د فتحه شویو سفارتونو او قونسلګریو له لارې اوس د امارت د استازو له لوري د افغانانو ستونزو حلېږي، په زرګونو محصلین له هېواد بهر په زده کړو بوخت دي، ورزشکاران مو د نړۍ په هر ډګر کې سیالي کولای شي او سوداګر مو په ازاده او ارامه فضاء کې هېوادونو ته تګ راتګ، صادرات او واردت کوي، دا ټولې هغه هڅې او زیارونه دي چې د اردغان له ستریاو کم نه دي؛ نو افغان ملت ته هم لازمه ده چې د دغو نه سترې کېدونکو هلو ځلو قدرداني وکړي او د الله جل جلاله شکر ادا کړي.

بله خبره د ملت جوړونې او ولسونو ویښتیا ده، دا هم خورا مهمه موضوع ده، شل کاله بلواکرو دلته د زهرو، کرکې، بدبینۍ او دښمنۍ تخمونه شیندلي دي، دلته یې د تعصب، سمت پرستۍ او قوم پرستۍ اورونو ته ببوځي وهلي دي، د غرب، شمال، جنوب او شرق په نومونو او خېلونو یې تیت او پرک کړي یو، څنګه چې لازمه ده دغه زهرجنه او مرګوني پدیده له منځه یوسو او د هېواد هر وګړي ته د اخوت او اسلامي یووالي لارښوونې وکړو؟ سر له دې چې مسئولو مشرانو په دې اړه خپل مسئولیت ادا کړی هم دی او په کراتو مراتو یې ولسونو ته د ډاډمن ژوند د تېرولو او په مرګونو لارو د ځوانانو د نه تګ سپارښتنې کړي او ټول افغانان یې د یوه بدن غړي یاد کړي؛ خو بیا هم د ځوان قشر په منځ کې یو ډول د ناهیلۍ او محرومیت احساسونه سرونه پورته کوي، لازمه ده چې دغې برخې ته هم ښه پاملرنه وشي، ترڅو هېڅوک د محرومیت او مظلومیت احساس ونه کړي او بهر ته د تګ لیوالتیا ته زړه ښه نه کړي.

همدارنګه ویښ ملتونه او نوښتګر ځوانان په هېڅ قیمت خپله خاوره او خلک یوازې نه پرېږدي، موږ داسې خلک هم لیدلي چې په ټولنیزو رسنیو کې به یې د هېوادپالنې په اړه حماسې شعرونه زمزمه کول، وخت ناوخت به یې د سولې، امنیت او سوکالۍ په اړه د ارمان آهونه کښل؛ خو کله چې بلواګر تښتېدل؛ نو د هغوی د الوتکو په وزرونو یې ځانونه راخړولي وو او له وطنه تښتېدل، دا ډرامتیک تمثیلونه ملي روحیې زیانموي او په ولسونو کې د ویښتیا مورالونه ځپي، کاش چې موږ څه لیکلای او څه مو ویلای، د هغه په نېمه پیمانه مو له خپلې خاورې او خلکو سره مینه کړې وای، نن به موږ د ډېرو پرمختللیو هېوادونو په کتار کې راتللو.

علامه اقبال څومره ښه ویلي دي:

خدا آن ملتی را سروری داد
که تقدیرش بدست خویش بنوشت
به آن ملت سروکاری ندارد
که دهقانش برای دیگران کشت

څو ورځې وړاندې د شهید امیر المومنین ملا اختر محمد منصور (رح) په اوم تلین کې ډېرو مشرانو خبرې وکړې او په دغو خبرو کې یې ښه پیغامونه نغښتي وو، یو له ویناوالو د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی مولوي امیر خان متقي صاحب و؛ نوموړي په خپلو خبرو کې له هېواد څخه د افغانانو د تښتې او پردیو هېوادونو ته د پناه وړولو یادونه وکړه او وې ویل چې اسلامي امارت هېڅوک نه دي اړ کړي چې هېواد پرېږدي او نه دې هم بهرني هېوادونه افغانانو ته په دې پلمه وېزې ورکړي، چې ګواکې د دوی سر او مال ته خطر دی؛ اوس د هېچا سر او مال ته خطر نشته، ځکه چې دا د عدل او انصاف نظام دی او دلته د هر افغان حیثیت او عزت خوندي ساتل شوی او هېچا سره په دې نوم چې ګواکې په تېر نظام کې یې کار کړی او یا د تېر نظام چارواکی پاتې شوي دي، هېڅ ډول تبعیضي رویه نه ده شوې؛ نو فلهذا سفارتونه او بهرني هېوادونه دې په دې پلمو افغانانو ته پناه نه ورکوي.

پر دې سربېره ښاغلي متقي صاحب دا هم وویل چې د تېر نظام په سلګونو زره کارکوونکي اوس په خپلو دندو بوخت دي، حتی نجونې هم له دې حقه نه دي محرومې شوې؛ بلکې تر اوسه دوی د نظام برخه دي او پخواني کارکوونکي اوس هم د معینیتونو سربېره نورې غټې او مهمې څوکۍ په خپل اختیار کې لري.

اوس چې نظام له دومره انعطافه کار اخلي، ولس ته بویه چې د نظام د پایښت او تقویت په اړه شپه او ورځ کار وکړي، د دښمن د تبر لاستی نه شي، په پردیو هېوادونو کې د حقارت شپې ورځې تېرې نه کړي، د هېواد له خاورې او ملي نوامیسو کلکه دفاع وکړي، لکه څرنګه چې موږ نن د ترکیې د ولسونو میړانې او حماسو ته کورو او دغه میړانه د ترکیې د پرمختګ او بقا لامل بولو، دغسې په موږ افغانانو هم لازمه ده چې د خپل نظام د تقویت لامل شو او له بهره د مقاومت (!) او یا نورو ناوړه کړنو ګواښونه ونه کړو، ترڅو به زموږ کډې په سرونو بار وي او کله به د ایران د اخندانو او پاکستاني چوهدریانو او اربانونو په دروازو کې د حقارت شپې ورځې تېروو؟ که موږ د دغو حقارتونو دوه سلنه دلته په خپل وطن کې په ځانونو زحمت ومنو او له غوړو غوښتنو تېر شو؛ نو لرې نه ده چې دا هېواد به هم په هر لحاظ له ترکیې او یا د سیمې له نورو پرمختللیو هېوادونو څخه وړاندې شي.

دریغې چې موږ د تاریخ له بابونو عبرت اخیستی وای او یا مو تېر تاریخونه په ځیر لوستي وای، اوس به موږ پردیو هېوادونو ته په مرګونو لارو د تګ اراده نه کوله او نه به مو له یوه اسلامي نظام څخه تښته کوله؛ ځکه د وطن خاوره او فضاء په هر وګړي د ساتنې او پالنې حق لري، دا یوازې د دولتونو او حکومتونو کار هم نه دی چې د هېواد د پرمختګ په اړه زیار وباسي، بلکې د شاعر د شعر په مصداق چې که موږ زړونه او لاسونه یو بل ته ورکړو او د اتحاد ژمنه وکړو، ډېرې ستونزې به مو حل شي او د هوسانې او پرمختګ لارې به ومومو.

که زړونه سره یو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا کاڼي به لعلونه شي دا بوټي به لونګ شي

مفهوم امنیت در قالب دولت

احمدشارق دلدار

در بررسی فرایند شکل‌گیری دولت از جوامع ابتدایی تا دوران جدید، سه نکته حائز اهمیت است.

اول آنکه، در فرایند تحول جوامع اولیه به جوامع مدرن، همگونی و همبستگی اجتماعی دچار تحول جدی شده است. در جوامع اولیه، وجود فرهنگ، زبان، آیین و تابوهای مشترک، نشان از همبستگی اجتماعی داشت، اما، به تدریج، از یک دستی و همگونی اجتماعی به شکل اولیه کاسته شده و با گذشت زمان، میزان تنوع و تکثر اجتماعی به شدت افزایش یافته و تفکرات پسا مدرن نیز به این جریان و روال دامن‌زده است. بنابراین، امروز، ایجاد انسجام ملی یا یکسان سازی فرهنگی و ذوب کردن تنوع اقوام درقالب قومیت یا ملت بزرگ‌تر غیرممکن است و انسجام اجتماعی را باید درعین تکثر و تنوع ایجاد نمود. این امر باعث پیچیدگی بیشتر مسائل، به ویژه در زمینه امنیت ملی شده است، زیرا امنیت ملی عمدتاً به دنبال وحدت بخشی و ایجاد انسجام است و درعین حال، امکان این امر با توجه به مکانیزم‌های سنتی مقدور نیست. بنابر این، درعین تنوع و تکثر، باید انسجام اجتماعی سیاسی و ملی ایجاد کرد و در این راستا، ضروری است به گروه‌های مختلف اجتماعی نقش بیشتری اعطا گردد. این بحث حتی در مورد مسائل بین المللی نظیر جهانی شدن نیز صادق است که به رغم گرایش تمدن سرمایه‌داری غربی به یکسان سازی فرهنگی، اجتماعی و اقتصادی، تفکرات پسا مدرن، بنیان‌های مدرنیته را به چالش کشیده است. درعصر استعماری و امپریالیستی، عمدتاً نگاه غربیان به کشورهای جهان سوم، نگاهی تحقیر آمیز بود، ولی امروز، در نزد غربیان نیز بنیان‌های مدرنیته سابق، رونقی ندارد و در درون همین کشورها تفکرات محلی وارد عرصه شده است. بنابر این، از یک طرف، پیشرفت درونی کشورها و فرایند بین المللی درگرو تنوع بخشی و کثرت گرایی است و از طرف دیگر، دستیابی به نوعی انسجام ملی و ایجاد سازوکار بازیگری در عرصه بین المللی، فن سیاست مداری را تبدیل به هنر کشورداری کرده است.

دوم آنکه، اجزای دولت، از جوامع اولیه به جوامع مدرن، به واسطه تخصصی شدن و گسترش فعالیت‌های دولتی، به تدریج، رو به جانب پیچیدگی گذاشته است. درگذشته، تمام امور قانون‌گذاری، قضاوت و اجرا در دست یک نفر بود، ولی امروز، به دست گرفتن تمامی امور جامعه توسط یک نفر، پیامهای جبران ناپذیری دارد و در برخی کشورها که مراحلی از پیشرفت را طی کرده اند، به امری تقریباً غیرممکن تبدیل شده است. در واقع، دولت در ابتدا، منحصر به دیوان سالاری بود، سپس کارکردهای حکومت را پذیرفت و به تدریج، بحث حاکمیت داخلی و خارجی مطرح شد و درنهایت، هریک از کارکردها، حوزه‌های خاص خود را پیدا کردند. انجام امور محوله در گرو دخالت نهادهای مختلف در کارکردهای یکدیگر درعین نهایت همکاری با همدیگر است؛ به گونه‌ای که کل مجموعه، ساختار منسجمی را نشان دهد.

سوم آنکه، واحد سیاسی دولت ملی نسبت به ساختارهای سیاسی ماقبل مدرن، از جنبه‌های مختلف، تکامل یافته‌تر است. به رغم مباحثی که در دو بند فوق اشاره کردیم، دولت ملی از نظر نوع و نحوه ترکیب جمعیتی، قلمرو سرزمینی، نوع حکومت و نحوه اعمال حاکمیت داخلی و خارجی، به مراتب تکامل یافته‌تر و منطقی‌تر از بقیه واحدهای سیاسی بوده است. در عین حال، این واحد سیاسی، به رغم پایایی و تداوم طولانی، به واسطه تکامل تکنالوژی های ارتباطی، گسترش تمایلات دموکراتیک و اندیشه‌های شالوده شکنانه پسا مدرن، تحولات زیادی را شاهد بوده و خواهد بود. این مسئله دو تقابل جدی درجهان امروز پدید آورده است. برخی کشورها هنوز در ساز و کارهای ملی گرایی خود غرق هستند و در آن سوی جهان، کشورهای دیگر، صدای جهانی شدن و بازکردن مرزهای ملی و تبادل همه جانبه اقتصادی و فرهنگی را سر می‌دهند. امروزه، اتخاذ سیاست‌های امنیتی، اقتصادی و اجتماعی معطوف به داخل یا سیاست‌های امنیتی، اقتصادی، فرهنگی بین المللی برای کشورهای درحال توسعه و نحوه ترکیب آن دو، از اهمیت زیادی برخوردار است. امروزه، مفاهیم مدرن امنیت به شدت تحت تأثیر مفاهیم پسا مدرن قرار گرفته و به رقابت جدی با آن می‌پردازد. یکی از محورهای این رقابت، فعال شدن گروه‌ها و نهادهای غیردولتی درسطح جهانی است و امروزه، به رغم اینکه به تداوم اقتدار و حاکمیت دولت‌های ملی خدشه وارد نشده است، مفاهیم امنیتی، درحاشیه و متن، به شدت پراکنده و شناور می‌باشند. دولت‌ها دراین شرایط، دیگر تنها بازیگران اصلی این میدان نیستند و عرصه رفتار بین کشورها، از حالت بین الدولی به بین المللی نزدیک شده و روابط بین ملت‌ها صرفاً حوزه روابط اقتصادی و فرهنگی را در بر نمی‌گیرد، بلکه حوزه‌های سیاسی و امنیتی را نیز تحت شعاع قرار می‌دهد. واقعه ۱۱ سپتمبر، مصداق بارز این امر است. بر این اساس، درک فرایند تاریخی هر مفهومی از جمله مفهوم امنیت، امری ضروری است و حتی ورود به دوران پسا مدرن امنیت، خود نشانگر این امر است که فرایند کلان امنیت که رو به سوی پسا مدرن شدن دارد، به یکباره رخ نداده، بلکه حاصل فعالیت طولانی و مداوم بوده است. مطالعه تاریخی، سه کارکرد اساسی برای درک بهتر مفهوم امنیت دارد.

اول آنکه، مفاهیم امروزی امنیت برای ما شفاف و روشن می‌گردد و حدود و کارکرد و قواعد آن بهتر درک می‌شود. تنها کشور هایی که به مفاهیم، به شکل ناتاریخی می‌نگرند، از بهره وری تمامی مکانیزم و ساز و کار دوران خود غافل و عاجز می‌شوند.

دوم آنکه، درک مفهوم تاریخی امنیت باعث می‌شود دولت‌ها و ملت‌ها، فرایند دوران‌گذار را بهتر درک کنند و دچار بحران هویت و مشروعیت نگردند؛ بنابراین، امروز، باید به طور عقلایی مفهوم پسا مدرن امنیت را با توجه به شرایط و ملاحظات مورد توجه قرار داد. در این شرایط، دولت‌ها می باید نقش بیشتری برای جامعه مدنی داخلی قائل شوند. ضمن آنکه، وجود دولت‌های اقتدارگرا و حصارکشی مرزها، امری تقریباً غیرممکن و ناشدنی است.

سوم آنکه، نگاه تاریخی، امکان مواجهه با پدیده‌هایی را که دائماً درحال نَو شدن هستند، فراهم می‌آورد؛ زیرا با این روال، مرحله‌گذار امری طبیعی به حساب می‌آید و در راستای تکامل بهتر زندگی بشری، مفاهیم مختلف از جمله امنیت نیز متحول می‌شود و امکان سازگاری یا حتی مقابله‌هم آگاهانه می‌گردد و حداقل، بحران‌های دوران‌گذار، جوامع را شکننده نمی‌سازد. بنابر این، درک تاریخی، ضرورتی و لازم است، به نحوی که رویکرد تجربه-گرایی که عمدتاً ناتاریخی خوانده می‌شود را نیز، گریز ناپذیر می‌نماید.

در اخیر هم باید گفت که درک مفهوم امنیت ملی، نیازمند بررسی سیر تحول این مفهوم است. به بیان ساده‌تر؛ این امر نه تنها ما را با امنیت قبیله‌ای، امنیت شهری و امنیت کشور آشنا می‌سازد، بلکه زوایای مفهوم امنیت ملی را روشن‌تر می‌کند. عامل اصلی تأمین امنیت درجامعه، غالباً دولت می-باشد. از این رو، برای بررسی دقیق این مفهوم، دولت‌های مختلف پیشا مدرن نیز باید مورد بررسی قرار گیردند، یعنی تأکید عمده بر ساختار سیاسی باشد تا فرایند سیاسی که در این‌جا مجال بحث پیرامون آن نیست؛ در مورد مفهوم دولت درساختار ماقبل مدرن، مباحث و اظهارات متفاوتی وجود دارد و به طبع، بدون درک مفهوم دولت‌های مختلف، درک مفهوم امنیت نیز غیرممکن است. درعین حال، مفهوم امنیت با ساختار سیاسی یا دولت همگونی و همخوانی بیشتری دارد.

خوارج له صدر اسلام څخه، بیا د نن تر دواعشو

دیارلسمه برخه / عبدالرحمن محمود

بله لویه فرقة د خوارجو « بیهسیة » ده

د دې فرقې مشر ابو بیهس، هیصم بن عامر دی، د ډلې نسبت یې هم د ده و اسم کنیې ته دی، د ولید بن عبدالملک په دور خلافت کې یې ظهور وکړ ، ابو بیهس هغه تفردات او شخصي نظریې لري چې له ده مخکې نورو خوارجو نه درلودې ، مثلاً ده ویل د مجوسینو سره نکاح روا ده، د خنځیر او میتة او دم مسفوح یعنې د بهیدونکې وینې نه بغیر نور هر څه پاک دي ، چې کله امام کافر شي رعیت یې حاضر او غائب ټوله ورسره کافران کېږي.

حجاج بن یوسف الثقفي طلب کړ ، دی مدینې منورې ته و تښتید، د مدینې والي په دې وخت کې عثمان بن حیان و، هغه ونیو زندان ته یې واچاو، زندان ته به کله کله ورغی او پوښتنه به کوله، په دې منځ کې د عثمان بن حیان او ابو بیهس ترمنځ ښه ملګرتیا جوړه شوه ، د شپې قیصې او مجلسونه یې سره کول،خو دا ملګرتیا هغه وخت ختمه شوه چې د ولید بن عبدالملک لخوا امر د مدینې و والي ته راغی چې د ابو بیهس لاسونه او پښې لومړی ور قطع که بیا یې سر ور پرې کړ، عثمان بن حیان هم د ولید امر پر ځای کړ او ابو بیهس یې و واژه.

بله مشهوره ډله د خوارجو «صفریة» ده ، ددې فرقې نسبت و زیاد بن الاصفر یا و عبید بن الاصفر ته دی، هغه د دې فرقې مؤسس و ، دا فرقة د نجدات فرقې څخه هغه وخت را جلا شوه چې د ابن الاصفر او نجدة ترمنځ اختلاف پر دې مسئله راغی چې مخالفین یې لکه مشرکین داسې کافران دي او که کافران په دې معنی چې کفران د نعمت یې کړی؟

او بل یې پر دې اختلاف شو چې د مخالفینو د ماشومانو او مېرمنو وژل روا دي او که نه ؟

په دې دواړو مسائلو کې صفریة و، له نرمی کار اخیست، نه یې خپل مخالفین مشرکین بلل او نه یې د هغوی د اطفالو وژل روا بلل.

بله ډله عجاردة وه، نسبت یې عبدالکریم بن عجرد ته دی، له ازارقة جلا شوې ډله ده ، ازارقة په هر حال د خپلو مخالفینو اموال غنیمت او و خانو ته جائز بلل، خو عجاردة بیا تر هغه وخته غنیمت نه بلل چې څښتن یې وژل شوی نه وي، دوی په دې عقیده و،چې ماشوم د بلوغ څخه مخکې ، نه مؤمن دی او نه کافر،چې کله بلوغ ته ورسېد دعوت دې ورکول شي، او تر هغه وخته برئت ترې واجب دی چې دعوت نه وي ورکول شوی.

دا د خوارجو د یو څو هغو ډلو مختصره پېژندنه وه چې په خوارجو کې مشهورې او لویې ډلې شمېرل کېدې، دا هره ډله د لږ اختلافاتو په سبب و متعددو ډلو ته وېشل شوې ده ، ځکه چې د خدای جل جلاله د رسول په ژبه دا خوارج « سفهاء الاحلام « دي، بیعقلان او احمقان دي، پر لږ څه به یې یو له بله مخالفت وکړ او د هغه وینه به یې ځان ته جائزه وبلله په ډېر کم وخت کې په خوارجو کې دومره ډلې پیدا شوې چې تقریباً د هغه تعداد لویه برخه یې جوړه کړه چې د خدای حبیب صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي(انَّ بني اسرائیلَ افترقتْ علی احدی وسبعین فرقةً ، وانَّ امتي ستفترقُ علي اثنتیْنِ وسبعین فرقةً ، کلُّها في النارِ الا واحدةً وهي الجماعةُ.)

بني اسرائیل پر ۷۱ ډلو ووېشل شول او زما امت به ژر پر دوه اویا ډلو ووېشل شي ، ټول به په جهنم کې وي په استثناء د یوې ډلې چې هغه «جماعة» دی، په بعضو روایاتو کې تفسیر په دې شوی «ما انا علیه و اصحابي « چې زما او زما د صحابه وو لاره ده، دا نو هغه الفرقة الناجیة ده.

د «نهروان» د جنګ وروسته د حضرت علي رض پر خلاف د خوارجو تحرکات...

نور بیا

د قسطینطنیې تاریخي سوبه

عبدالحی قانت

اسلامي تاریخ له سلګونو داسې سوبو ډک دی چې هره یوه یې له خان سره د یو لوی تمدن د راپورته کېدو ډېرې خوندورې کیسې لري. هغه تمدن چې د حجاز په کوڅو کې د خدای د محبوب (ص) په ورځ او شپه کوښښونو، سختیو او تکلیفونو رامنځ ته شو، نن یوه نوستالژیا ده. موږ دغه تاریخ د یو ناول په څېر لولو، خوند ترې اخلو، اوښکې ورته تویوو او ارمان کوو چې کاش موږ هم د اناتولیا، حلب، اندلس، بغداد، دمشق او حجاز په وخت کې ژوند کړی وای. دغسې محکوم ژوند چې نن یې اسلامي نړۍ په دغه پوست مدرنته عصر کې کوي، د هېڅ چا پر ځان نه لورېږي. مونږ په رواني لحاظ حق لرو چې د خپل تمدن د تاریخي شهامتونو په کیسو خپل غرور تغذیه کړو.

له دغه بې شمېره میړانو یوه د قسطنطینې فتحه ده. هغه چې د خدای پاک محبوب یې پوځ او د پوځ مشر ته سلګونه کاله مخکې له سوبې د غوره مشر او پوځ لقب ورکړی و.

امویانو، عباسیانو او له سلطان محمد فاتح مخکې نورو عثماني سلطانانو کوښښ وکړ چې دغه لقب خپل کړي خو بریالي نه شول.

د آیا صوفیاء تعمیر د ښار په منځ کې قرار درلود او دغه ښار د هغه وخت د مسلمانانو د حکومتونو، د بازنطین د امپراتورۍ او د کاتولیکې کلیسا ترمنځ ډېر ستراتیژیک اهمیت درلود. د مسلمانانو د څمکو طرف ته دې ښار پنځه امنیتي دیوالونه درلودل او د بیرون له طرفه له دیوالونو پرته د مسلمانانو او ښار په منځ کې د تور سمندرګي نه را بېله شوې ترانګه بهېدله چې هر وخت به یې مسلمانانو ته د دې ښار په نیولو کې مشکل جوړاو. لویه مسئله دا وه چې د دې ترانګې په منځ کې د وسپنې یو ډېر قوي تار غځول شوی و چې له اجازې پرته ترې کښتۍ نه شوې اوړیدلای. دغه بند مسلمانو مجاهدینو ته له ټولو لوی درد سر و او له دې پرته ناممکنه وه چې دوی خپل پوځیان د هارن ښکر ته ورسوي اوبیا یې د قسطنطینې د دیوالونو تر بېخه مارش کړي.

سلطان محمد خان فاتح د مراد خان دوهم زوی و چې په ډېر ورکتوب کې یې خپله ترکۍ مور له لاسه ورکړی وه او دی د سلطان مراد بلې یونانۍ ښځې را لوی کړی و. دغې یونانۍ خپل بچی نه درلود او سلطان سره یې ډېره مینه درلوده. سلطان مراد د ډېر عمر سړی و، غوښتل یې محمد فاتح ژر را لوی شي تر څو د حکومت واګې ورته وسپاري. سلطان مراد د فاتح په ۱۲ کلنۍ کې اول ځل لپاره ده ته د عثمانیانو تخت وسپاره خو ده به د سلطنت تر څنګ د خپل استاد او حکومت باشا سره خپلو زده کړو ته هم دوام ورکاو. اول ځل څه د پاسه دوه کاله دغه سلطنت تر ډېره محمد د مشاورینو په جال کې ګیر و او هغوی به کوشش کاو چې سلطان هغه څه وکړي چې دوی یې غواړي. محمد له دې کاره ډېر ستړی و، مشاورینو سره یې ټکر راغی. دغه وخت سلطان مراد په ماوراء النهر کې آرام ژوند تېراو او د حکومت له امورو یې ځان جلا کړی و. د حکومت پاچا (صدر اعظم) ولاړ او سلطان مراد ته یې د محمد فاتح د بې باکۍ کیسې وکړې، هغه راغی او له محمد فاتح څخه یې سلطنت بېرته واخست او دی یې ډېر لرې ځای ته د زده کړو لپاره ولېږه.

سلطان مراد چې کله وفات شو، د سلطان فاتح عمر ۲۱ کاله شوی و. دی چې خبرې شو راغی او د حکومت له ټولو مشاورینو یې عهد واخیست. د حکومت چارې یې سنبال کړې او په اوله ورځ یې اعلان وکړ چې دی به د قسطنطینې ښار نیسي. مشاورینو ډېر کوښښ وکړ چې د سلطان فاتح له ذهنه دغه فکر وباسي خو دوی په دې کار ونه توانېدل.

سلطان فاتح چې کله د دغه کار لپاره نظامي ستراتېژي جوړوله یو عیسوي اوربان راغی او سلطان ته یې وویل چې که دې ته وسائل برابر شي او پیسې ورکړي دی کولای شي سلطان ته داسې منجنیقونه جوړ کړي چې دی پرې د ښار پنځه امنیتي دیوالونه وغورځوي. مخکې له دې هېڅکله په جګړه کې د دومره لویو منجنیقونو استفاده نه وه شوې. سلطان اجازه ورکړه، اوربان په کار پیل وکړ، جګړه پیل شوه، د اوربان قوي منجنیقونو ونشو کولای د کلا یو دیوال چپه کړي.

ارتوډوکس عیسایانو ته د روم له کلیسا هم مرستې راغلې، د هغوی پوځیان او کشتۍ راورسېدې، جګړې ته میدان برابر شو، سلطان بې انتهاء خپه و خو عزم یې له آسمان سره خبرې کولې.

ده کولای شو جګړه وګټي خو د فاسفورس او هارن ښکر په منځ کې د اوسپنې بند کار خراب کړی ؤ. ده نشو کولای خپل پوځیان له دغه بنده تېر کړي تر څو په میدان کې عیسویانو سره جګړه وکړي.

سلطان ۲۱ کلن ځوان و خو حوصله یې پر ځای وه، مشاورینو یې ورته وویل چې دوی نه شي کولای جګړه وګټي چې بېرته ستانه شي ښه به وي خو د سلطان زړه دا نه شوه منلای. د قسطینطینې سوبې د هغه له سترګو خوب تښتولی و. په هر حال چې و ده باید د آیا صوفیاء په مناروونو د عثماني سلطنت بیرغونه رپولي وی.

د ده زړه ته خدای د شپې د دې مسئلې حل واچاو ده سبا ته د خپلې اردو وفادار او با اعتماده مشران راټول کړل. هغوی سره یې خپل پلان شریک کړ. ده غوښتل د فاسفورس له ساحله تر هارن ښکر پورې په وچه کې د لرګیو داسې سړک جوړ کړي چې کشتۍ پرې راواړوي. دا ستراتیژي کامیابه وه، د قسطنطینې عیسویان د دې په انتظار وو چې مسلمانانو سره به ژر غله او وسله ختمېږي او دوی به بېرته خپلو ځمکو ته ستنېږي.

یو سهار د قسطنطینې عیسویان ګوري چې د سلطان لښکر د هارن ښکر په منځ کې په جنګي کښتیو کې د کلا طرف ته روان دی. عیسوي لښکر روحیه وبایلله، د اسلامي لښکر لیدو سره د دوی پښې سستې شوې، سلطان پوځ مارش کړ، ګرمه جګړه وشوه، عیسوي پوځ او مشرانو یې عیسویان ځان ته پرېښودل، څه وتښتېدل او څه تسلیم شول.

سلطان د قسطنطینې ښار ته ننوت، عیسویان رپېدل چې دوی سره به څه حال کېږي، سلطان د کلا په ټولو دیوالونو د خپل بیرغ رپولو امر وکړ، بیا یې له آیا صوفیا د عیسویانو نښانونه او بتان لرې کړل، له هغه وروسته یې د خپل پوځ د دوه رکعته لمونځ امامت وکړ بیا یې وویل؛ د ښار ټول خلک را غونډ کړئ.

سلطان راووت، دوی ته مخاطب شو، ویې ویل؛

نن ورځ ستاسې د مال، عزت او سر ساتونکي موږ یو، ستاسې د ژوند مسؤلیت زموږ دی. تاسې آزاد یاست چې خپلو عباداتو ته دوام ورکړئ، مونږ هېڅ څوک دې ته نه مجبورو چې خپل مذهب بدل کړي. وروسته له هغې سلطان په خپل شخصي لګښت آیا صوفیا واخستله او هغه لویه کلیسا چې د بازنطیني امپراتورۍ مرکز ؤ په مسجد بدل شو.

کال ۱۴۵۳م کې نن ورځ د اسلامي تاریخ دغه لویه سوبه تر لاسه شوه او د بازنطیني امپراتورۍ لویه استبدادي کلا د اسلام د بشپړ عدالت په نظام بدله شوه.

همدغه سوبه وه چې د عیسایي پاپېزم او د دوی صلیبي یرغلګر یې د تل لپاره د نړۍ له مخه ورک کړل.

د سرې میاشتې ټولنې موخه د بېوزلو هېوادوالو لاسنیوی دی

شاه محمود درویش

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د انسان پالنې او خواخوږۍ د مفکورې په لرلو تل د جنګ او جګړې د معیوبینو او غریبو ناروغانو خدمت ته وردانګلي او په زیاترو اړو او بېوزلو کورنیو یې خپلې بشرپاله مرستې وېشلي دي ، دغې ټولنې په دې وروستیو څو کلونو کې د شته ناځیزو امکاناتو په لرلو سره بیا هم توانېدلې چې د هېواد په یو شمېر سیمو کې چې د کال په مختلفو موسمونو کې هېوادوالو ته د سیلابونو د راوتلو له امله زیان ور اوښتی ، کورونه یې رنګ شوي ، د امنیتي ستونزو له امله له کوره بې کوره شوي اویاهم ډول ډول مصیبتونو څپلي ، بېرنیومرستو او لاس نیوي ته اړ شوي نو په مناسبو وختونو کې د سرې میاشتې ټولنې له خوا له دوی سره هم لازمې مرستې شوې دي ، همداشان دغې خیره ټولنې د هېواد بېوزلو او اړمنوهیوادوالو سره د مرستې ترڅنګ په دې هم توانیدلې ، هغه شمیر ماشومان چې د زړه سوري په ناروغۍ اخته ماشومانو درملنه وکړي.

بناً په ټوله کې د اسلامي امارت ترڅنګ ارینه ده چې د هیواد ملي پانګه وال ، ملي سوداګر او نور له مالي پلوه شتمن او توان لرونکي هیوادوال باید هڅه وکړي چې د خواخوږۍ او بشرپالنې د نیک احساس او انسان پالنې د غوره مفکورې له مخې د سرې میاشتې ټولنې سره بسپنه او لازمه مرسته وکړي ترڅو دغه ټولنه لاهم په خپلو پښو ودرېږي ، مالي بنسټ یې پیاوړی او یوه اندازه امکانات دوی ته په لاس ورشي ترهغه چې د کال په مختلفو موسمونو کې چې زموږ کوم شمېر هېوادوال له ډول ډول مصیبتونو او ستونزو سره مخامخ کېږي او بېرنیومرستو ته اړتیا پیدا کوي، په مناسبو وختونو کې له دوی سره لازمې لومړنۍ مرستې وشي ترڅو زموږ دغه مصیبت خپلي او بېوزله هیوادوال له شته ستونزو وژغورل شي ، نوبې له شکه چې زمون د دغه ملي پانګه والو ، ملي سوداګرو او نورو شتمنو او له مالي پلوه توان لرونکو هیوادوالو دغه بشرپاله انساني مرستې چې د سرې میاشتې د ټولنې له طریقه یې د هیواد بېوزلو خلکو او اړمنو کورنیو سره یې کوي پاک الله (ج) به د دوی په مال کې خیر او برکت واچوي او عظیم اجر اوثوابونه هم ور په برخه کړي.

شعر و ادب

غزل

حضرت سعد (رح)

هر کسی را نتوان گفت که صاحب‌نظر است
عشقبازی دگر و نفس‌پرستی دگر است
نه هر آن چشم که بینند سیاه است و سپید
یا سپیدی ز سیاهی بشناسد بصر است
هر که در آتش عشقش نبود طاقت سوز
گو به نزدیک مرو کآفت پروانه پر است
گر من از دوست بنالم نفسم صادق نیست
خبر از دوست ندارد که ز خود باخبر است
آدمی صورت اگر دفع کند شهوت نفس
آدمی خوی شود ور نه همان جانور است
شربت از دست دلارام چه شیرین و چه تلخ
بده ای دوست که مستسقی از آن تشنه‌تر است
من خود از عشق لبت فهم سخن می‌نکنم
هرچ از آن تلخترم گر تو بگویی شکر است
ور به تیغم بزنی با تو مرا خصمی نیست
خصم آنم که میان من و تیغت سپر است
من از این بند نخواهم به در آمد همه عمر
بند پایی که به دست تو بود تاج سر است
دست سعدی به جفا نگسلد از دامن دوست
ترک لؤلؤ نتوان گفت که دریا خطر است

***

ز دستم بر نمی‌خیزد که یک دم بی تو بنشینم
به جز رویت نمی‌خواهم که روی هیچ کس بینم
من اول روز دانستم که با شیرین درافتادم
که چون فرهاد باید شست دست از جان شیرینم
تو را من دوست می‌دارم خلاف هر که در عالم
اگر طعنه است در عقلم اگر رخنه است در دینم
و گر شمشیر برگیری سپر پیشت بیندازم
که بی شمشیر خود کشتی به ساعدهای سیمینم
برآی ای صبح مشتاقان اگر نزدیک روز آمد
که بگرفت این شب یلدا ملال از ماه و پروینم
ز اول هستی آوردم قفای نیستی خوردم
کنون امید بخشایش همی‌دارم که مسکینم
دلی چون شمع می‌باید که بر جانم ببخشاید
که جز وی کس نمی‌بینم که می‌سوزد به بالینم
تو همچون گل ز خندیدن لبت با هم نمی‌آید
روا داری که من بلبل چو بوتیمار بنشینم
رقیب انگشت می‌خاید که سعدی چشم بر هم نه
مترس ای باغبان از گل که می‌بینم نمی‌چینم

د اخلاص سورت فضایل

شپږمه برخه / خالد مشعل

۳۶ــ عن ابن عباس رضي الله عنه قال: قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اذا زلزلت تعدل نصف القرآن، و قل هوَ الله احد تعدل ثلث القرآن، و قل يا يها الكافرون تعدل ربع القرآن.
(أخرجه الترمذی، کتاب فضائل القرآن، باب ما جاء فی اذا زلزلت، رقم الحدیث: ۲۸۹۹)
ژباړه: له حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی، وایي:: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ووېل: (اذا زلزلت) د اجر او ثواب له مخې له نیمایي قرآن سره برابر دی او (قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ) د قرآن له دریمې حصې او (قل یا ایها الکافرون) د قرآن له څلورمې برخې سره برابر دی.
